

Ketabton.com

# وړانګه

یوه وړانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وړاندي
بیا پیړۍ په ځای ولاړ وي
او تیري وي لاندي باندي

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

# ورانګه

دکتاب نوم : ورانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین هنریار

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

په ویاړ
د هغه ټولو زمریالو
چې د بنیادمو د ښتونو ځني
تېښتندې د پښتو خولاني او د -
لاسونو ولچکونه پرې کوي او دا
رنګ آدمزاد خپل قجیر قامت
ته ور جګوي او ژوند نور
غوړځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

څوک يې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوربېدی[1] شي

ځان په ښنش ولې ليکه[2] کړي
چې په شتوکي اودرېدی شي

څه په سر آسمانونو يې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ ږغونېدی شي

په خرڅک[3] دې ولې سود[4] شي
چې په خېز نښترېدی شي

د پړو[5] تل[6] ته ولې پېلي[7]
له بريالو چې ملېدی[8] شي

د بازار اداره هنر دې نه نه ده
که نه يې چتي بازېدی شي

ليت او لار چې د مېړه وي
فطرت ښول ولجه کېدی شي

---

۱- نوربېدل = بدلېدل، ۲- ليکه = حساب، ۳- خرڅک = يوبوټی، ٤- سود = مطمئن
٥- پړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله-جمعيت، ۷- پېلتل = يوځای کېدل، ۸- ملتل = ملګرېدل

که سوارهٔ لوی فرعونان دي
که کلیم (ع) شي کونږېدی شي

د برې لاري بند نه دي
که له سره څوک تېرېدی شي

○

لوی کتاب د میړنګارانو
ګډه پېژندګي د ځوانانو
بیا د ختوکوکوښتان ټول
الوتونکي باتوران کا

○

د کلیم دود و نه خپل کا
رانسکوره زور جهان کا
پرېباسلی او نتلی[1]
د دوران قهرمانان کا

○

هغه څوک چې مېړه خپل دی
ټینګ په ننګ او په خپل څېل[2] دي
د زړو ماړي[3] یې ژوند دی
چې د شنو زړو د سېل دی

---

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- څېل = هوډ، ۳- ماړي = ښکار.

ترمې وينې دی سکروټې

ترمې وينې هم رامبېل[1] دی

د خپل تڼک دي پاتې شوي

په کولنډ[2] دی که په بنګېل دي

رشې خنګه بې ګونډی[3] شي

چې ځانګی[4] همه رشپېل[5] دي

داطبيب به دي ځنګ روغ کړي

چې پې چارې د شا خېل[6] دي

چې د دروزې[7] پې تښې وي

په وينو پراته غلبېل دي

چې جامه پې کاسيری[8] وي

څه په چپېل[9]، څه که پې چپل دي

د باتور انګې[10] وروستی ده

مشری که په چارخويل[11] دي

---

۱- رامبېل = يوګل، ۲- کولنډه = کتڅه چې دغوږې، څاروي څخه تړېې اچوي چې د آزاد ګرځېدونه يې منع وساتي، ۳- ګونډی = کامې ګنتې- خلېل، ٤- ځانګی = دري غابښې

۵- رشپېل = چې دغلې رشې پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خليل کوي يعنې خرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = دغموډ نډ - تيلی، ۸- کاسيری = بد لمنی

۹- چپېل = پړونی، ۱۰- انګی = يوه لوبه چې وايي انګې انګې مل دی څوک دی ،

۱۱- چارخويل = قرقره،

نه د دین، نه د سا(۱) دین دي
خوار متازه د سوئیل(۲) دي
شاید بیا خلیل ع زرغون کړي
"مومنان" ټول آذر خیل دي

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
ژوند په هر لاریکي وي چې
کلیمې ته یې اړتیا ده

د جهان د سمام(۳) پېټې
وړې تندي باندې مېږونه
د ملخې نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاخون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

۱- سادین = اړولې ځمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس- توزیز

په جرقار چې لر و بر کړي
بلالي هغه بانګونه[1]
چې دا ځمکه دخدای کور کړي
دي هغه دخښتن ملونه

ننګیالي دي شاه میړونه
لکه حق یې کړی ورږه وي
د ننګیال په مټ، په توره
دلته ارد ځښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
د ننګیال د مزري زړه وي
تورځنګلونه خوندې وي[2]
حق ننګي یې غرین کړه[3] وي
ساه یې واچوي جوش[4] کې
له پېړو پېړو چې مړه وي
د ناحق ورږه[5] بتول پړه کړي
ورږه هغه کړي، چې تل پړه وي

---

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورځنګلی = باطل کاره، ۳- غرین کړه = قلا- سنګر
۴- جوش = تنه ، ۵- ورږه = بریالی.

د ګېدړ په اوړو نه شي
چې په غرمب د شنو زمرو شي
په تسپو مو سلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي
په منبتو[1] نه بو دېږي
چې په وينو په خولو شي
چې د باز شوغي ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!
ننګيالي يې شي ګولی
چې په دار، په غرغرو شي
د تاريخ بهير ګړولی
کله څوک بې هوډه يالو شي؟
د راسمنو چارې کله
د ناړامو[2] په لېنګو شي
د ژوندون د ميدان ګټې
په ډال غاړو توريالو شي
د ځيرک مېړانه کله
له درست کلی د ړندو شي

---

۱- منبنته = زيارتونو ته د وړو د پاره په ځان څه منل، ۲- ناړام = ناغيږ - ناراست .

چې رنځور باویړی[1] وکړي

پوچې هیلې د دارو شي

آدم وګوره ای مارکسه!

کله بې سود په کوکو شي

د ځانګو د کوچنی نمڅري[2]

پوره څه رنګ په ځلمو شي

چې د نمر د روڼاوي وي

رون به څنګ په اورګو[3] شي

عقل څه خوږي آتي دی

راسوړي[4] په خپلو ملو شي

د څیرک سر پوره والی

د حرې په سیپارو شي

چې له مال خبره واوري

پت په سربندې پاله شي

کائنات چې په منګل کړي

دا سرې سرې باله شي

---

۱- باویړی = بابیړی = د نارو غۍ بیا تاندیدل، ۲- نمڅری = جامې، ۳- اورګی = اوربلکی

۴- راسوړي کیدل = راکرڅیدل - راخلاصیدل - راختل.

لوښتې نه تلې صبا څوک

هم یو «زه یم» به تاله شي

ښکلې هغه چې ښيوه[1] يې

يو د «زه يم» په پساله شي

زه يم هر کله څلمي دی

دې وجود چې زوړ څاله شي

هغه ورځ به ستر سحر وي

چې دا ځمکه يو کاله[2] شي

په يولوی سين کې غرپلی

چړې، چړ، لښتي، ويالــه شي

دکتاب حد ماتي مه شي

هره لاره چې تړې

چې د ژوند د خيره نه وي

ورانوه لارې زړې

حق به هله ميشته وکا

لومړی غير چې وشړې

يا سړی يادځه شه

حق ناحق ولې ولړې

---

۱- ښيوه = دول- ښايسته والی، ۲- کاله = کور

زبیښناکیان چې له مینځ ورک شي
پرکنې به شي مړي
لوی آتیان لکه اوکر[1] کړي
د جنګ غر تیر به ي وړي

○

ستور څارکو دواړه کسي
په څارلو کړل تنها کي
نړی وټ ېي چرته بیامونډ
برد ستورو په دنیا کي

○

له کارونو او له شکو
سره زر و سپکل کیر[2] یکړو
الوول حق و ناحق دي
څنګه تر او سه ستړکورو؟

○

د بوذرؓ د کندي خلق
د آذرود کندي دي
که هر څو مخ په کعبه دي
له بتانو پیوندي دي

---

۱- اوکره د څاروود خوړلو نه وروسته پاتي کېدونکې ګیاه یا تا نتې، ۲- کیرنکره کیږي کوونکې

جوړوي د ښېښو مېنې[1]
ځېرګان خوښېبه کړوي
د وختونو په ناتار کې
چې يې وګوري د بړ[2] وي

○

د وجود نيستي بلا ده
پرې له سوخت مارکسان ژاړي
سر نيستي ده د نيش[3] "زه يم"
د وه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو
د صورت هسې د ورېږي
ولې "زه يم" يوتوکيز[4] دی
يوتوکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود څه دی؟
د حجرو[5] الوولتيا ده
او حجرې د خاورين توکو
خپل ترمينځه انډوليتيا ده

۱- مېنه = کور، ۲- د بړ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته - نيشت، ٤- يوتوکيز = د يوتوکی نه جوړ - چې کډه ونيزه نه وي، ٥- حجره = Cells - ژوندينکی.

دا خاورینه واړه تسوکي
د بړیښنکو غونډي دي
او بړیښنکو ته چې ځیر شي
تشي ترقنده خپي دي

○

دین همه واړه سره زر دی
مذهبونه ټول زرنیخ
دین ژوندون کاندی غور ځانګه
مذهبونه یې چارمیخ

○

ګرلاسی کندوان یې ډک شول
چې جَب جوب شول په خولو کې
ځارله هغو تور یالیو
چې په خیږ دي سرشیڼو[1] کې
غوره[2] ټوله دې په ځان بده
تش لمن که یې پسرلو کې
ساده ګوري ملغلري
خُسا ډنډوکو، خرخوړو کې

---

۱- سرشیړی = سرپوه ، ۲- غوره = تومت - ګرَم والی - ملامته

دا چې ګواښ په سترګو کېږي

ته هم زوره څه نیزوکي

څه ناویا ته چاره وکړه

مېړنیه! په تلو تلوکې

○

کوړیمار[1] چې د بمبل وو

هغه سر په مونډو[2] دی

کړولي[3] چې یې د باز وې

په لولکو په شوغو دی

چې د برید او د غدی وُ

د تسپو د موسلو دی

چې جرګې پرې ښایسته وې

هغه شرم د جرګو دی

چې خښتن د لوی اخور وُ

اوس د پوچو کسبیدو دی

د تیرو تورو بورګی[4] وُ

د بې سترګو د کندو[5] دی

---

۱- کوړیمار = دا تمان د مخې په لوبه کې په بمبل (په سرکې) د کوړې (حلقې) د ننه تګ وېشتونکی ۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بټ د تېلې ختې نه ښکته وچې کېښې لوښی، ۳- کړولي = د ښکار ځیرکولو، ښار لود پاره د باز تاویدل راتاویدل، ٤- بور = زمری، ۵ = کندی = چم، محلت.

## د قرآن ځینې نامسـنده
## څه د خوشو عقیـدو دی

باز داري يو لـوی هـنر دی

ته په يو ښيله[1] باز داري

چې نه لـري جـوړ

په نامه باندې میشکاري[2]

تش غړ باز و وته ناست يې

څه که ځوږي د لوی بلا ري

ته میر ښکاره کړي غـواړي

په ښه ښه مـرداري

يې په تـومنه لـه و يـارلو

خو په چارو کې د ویار[3] يې

له قرآن په غیر هـذا

بې صلوٰة مونځ گذاري

کله سړی وان ته کوز کړه

چې داولې دومره خواري؟

---

۱- ښیله = د څرمنې لاسمه چې د باز کښېنولو د پاره يې لاس ته اچوي، ۲- میشکار = بازوان، ۳- ویار = شرم.

چې ټول نه قرآني وي
دا سړي به شهسړي[1] وي
دا تنزري تاروګي به
بیا بازونه وهندي وي
دا پربوتي، دا اِنسټ[2] به
بیا ښبتري آسماني وي
چې نوموړي په قام قام دي
بیا به ټول یو آدمځي[3] وي
د نن شخولي[4] او کاټي[5] به
صبا توري او تو بري وي
په ونډوی[6] ځمکی د نن به
نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي
نه به پولي، نه بیلتون وي
نه نهوا، نه زمایي وي
یو آدم، یو آدمتاله[7]
په کښ رنګ به یورنګي وي

---

۱- شهسړي = ستر سړي، ۲- پربوتي اِنسټ = بوبتي دی، ۳- آدمځی = دآدم زامن، ۴- شخوله = درسته، ۵- کاټي = تیکی، ۶- ونډوی = داسی حلال کړي شلروی چې پکې خلقو برخي (ونډوی) ملستی وی، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې دځمکي ټول استوګنی (ځمکزی یا آدم زی) راټول وی یا سره راټاله وي

آدمځوني[1] به پوکوړوي

وران به کوړکې کوړکي وي

دړناوی به وي په جسو

سپکاوي به بې جسمي[2] وي

نه مړيې نه به څښتن وي

نه به غټ، نه به نري وي

نه کاواک، نه به بې واک وي

چې الله به ټولواکې وي

ټولنوال به ټولنوال لـه

رب، رحيم وي، او ولي وي

هم به يې کسب خالقي وي

هم توره[3] به يې رازقي وي

وي پاڅون لکه پوټـنـ به

يو ټاله به مختـګي[4] وي

له ختيځه ترلويديځه

به يوسترهٔ ورورولي وي

په حدونود کتاب کې

به دعقل خپل مـخي[5] وي

---

۱- آدمځوني = ځمکه، ۲- جسم = ورتيا، اهليت، ۳- توره = قانون - تره - ترلې لاره - لاره، ٤- مختګي = مخکې تګ، ٥- خپل مخي = خپلواکي - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به

تل تر تله غرځنګې وي

یو ځای به په ټولو

ټول له یوه به لوګي وي

له قبلو دې کړو وړو

به یوه کعبه موندې[1] وي

له زړها اور او رکو به

د ځړې یو رڼایي وي

سرې ټول به سره سیال وي

په فطرت[2] به یې ستړواکي وي

ستا خیرې درست کائنات دی

ته لا کوز په خرخښ[3] وې

پولې پولې ده لا ځمکه

خپل ترمینځه په دښت[4] وې

ژوند له تنه کړو[5] نیزدې

ته ځان ځانې به ترخوې

---

۱- موندمه = راکسل ناوی۔ دغوبل دمینځ غوبې، ۲- فطرت = نیچر- دبنیادم نړیتر نور ټول کائنات ۳- خرخشې = جګړنه، ۴- دښمنه = دښمني، ۵- کړونیزه په کړه هستېدونکي.

ځمکه یو کور ځکه نه شه
ته ترڼن د کورکویې
یوکور[1] په وارہ آدم دی
تن په قام، په قبیلویې
دیوې حجرې زیږنده
د حجرو په بیل ګلویې

ستره بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجري کا ټولي
دا خواره وارہ قامونه
ستامرام یو وروروولي ده
نه ملکري ملتونه
یو بیرغ په ځمکه جګ کا
کوز کا وارہ بیرغونه
داوسلي د مرګ لاهو کا
سُر د امن کا تارونه
پدې ځمکې ـ آدمځوني
بیا برسېرکا جنتونه

---

۱ـ کوربه ـ کورنۍ.

یو کتاب دی سرتوره[1] کا
نور ونغاړه کتابونه
بیا آزاد په آدمزادکا
پارچاو[2] شوی نعمتونه

○

زول چا پېړۍ سورالوزي
دوه ویزاره راپرېوځي
له دې چې قند ناتاربه
هم پاخه بښختې وځي

چې د ژوند ځله یې مړه شي
چې یې ساه دلینکو وځي
راخوره شي پرې دلوړو
اوږ په خوله ځوځې ماځوځي

د قرآن دعوه خوداده
چې مؤمن په هرچا بردی
دعوه کېږي دکتاب کوره
دهمه قامونولر دی

---

۱- سرتوره = دسرقانون - اساسي قانون - بنسټیز قانون ، ۲- پارچاو = ډب - بند.

د زردارو په ټولنې
دې کښتونکي په بايلنې

د شته منو شته مني ده
د نيستمنو له نه بېښنې

د مارو کوښې(1) جوړېږي
د تش بانو(2) له شرمنې

د زردار ماڼۍ ولاړې
د کارګر په تنې پلنې

د ډک(3) لاس سپينه جامه ده
د تش لاس په ريمنې(4)

بده ورځ د لولنګرو(5)
دا زل نه دی ليکنې

د باطل ټولنه پايي
د مذهب په سروينځنې(6)

---

۱- کوښې = پېزار، ۲- تش بانې = نيستمن، ۳- ډک لاس = چې لاس يې ډک وي
٤- ريمنه = خيرنه - خيچنه، ۵- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه يا دوېتس نه لري، ٦- سروينځل = ملاتړ کول - پلوي کول.

○

وګړي ټول که آذري غواړي
څښتن له تا نه خليلي غواړي
د فرعوني سپاره کوزولوله
واړه وختونه کليمي غواړي
په تشو تيکو که کتي کېږي
د ننګ ډګرلا شه حلمي غواړي
وګړي ټول سرړقوي او پايي
حق د ميړه غوندي ښوندي غواړي
ښکيلاکي عمر د خاروودي ګوري [1]
ښوندي آدم به مخ کښي غواړي
د اباسين خونړي نيز اوچلي [2]
د جاليوانو سرهنګي غواړي
په هسک او تل د حقيقت لټول
تل سربېري ليږني غواړي
چي د څښتن لاره د ب کولي شي هم
ښوند اسي زين او هڅک سرې غواړي

---

۱- وګوري = خبردار ، ۲- نيز اوچلي = سيلاب اوڅپې.

○

د هغۀ قامونو په خرخشو کې
واړه قامونه بې هیڅه دل شي
د میکیاولي د شهزادګانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل کند کونه به پرې ناتار کړي
کله چې که نتولې زمري ته تهل شي
غښتلي متې د ځان کلا ده
کمزوري متې د ځان اجل شي
که سر ببري هوډیالي پا ځي
په ریژکو[1] به د اهغه بدل شي

○

چې د حق سره په لار دی
لکه حق هسې بې شار دی
چې د حق دلارې بېل دی
په دنیا، په آخر خوار دی
یو ویاړلي د حق رنګ دی
بل هر رنګ آخر دو ویار[2] دی

---

۱- ریژکي = کوچنې- وړوکې- ناشې، ۲- ویار= شرم- پېغور.

چې تیغه[۱] کې حق ته و لاړ دی
د خدای هغه څوک پکار دی

د خپل «زړه» نا روزونکی
خپل ځانی په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که کوږ ئ
ګل ورین هم تنا ر چار دی

په توله چې د پښتو لږ وند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی

چې د خیر د آدمزاد دی
نو په خدای هغه مختار[۲] دی

○

چې نا سور په مخ د ځمکې
شیخ ملي وي دا دوترې

آدم زاد به دوه تیپی وي
لږې برې نورې لرې

د پښتونو د لرمون به
زینې لوړې او نهرې

---

۱- تیغه = برش - کږه وږه - نقش -

۲- مختار = روېدار - دروند.

شي ځوړلي خلق به
بې دولیتي[1] ، یوه ځُري[2]
در په درخاورې په سر به
پرکښې وي لولنګرې
د ټولنو لوړ شور دا —
خپلو بدو له اشرې
عقوبت په غرغنډه شي
چې دُکیا[3] وي اورد سرې
تاله ټک د ادم اړ دی
په یو ورځې برابرې
چې پرې دروي کائنات ټول
ستا هم هغه لار مخبرې[4]

PROPERTY OF ACKU 7990

دا چې ځان خانتوره[5] بولي
دا چې هرچېرته شمله دی
نیسمنان په کمنډه[6] نیسي
وايي سپک دی ارګجه دی

---

۱- بې دولیت = چې دوله نه لري، ۲- یوه ځُرې = چې یوازې وي، ۳- دکیا = چې لوګی کوي،
٤- مخبرې = په برمخ، ۵- خانتوره = خان چې ترل پر انستل کوي چې د توری خان وي،
٦- کمنډه = کم ذات - کم اصل - کم سیال

له ازل، وأيي برياليو
نور په برخه شاګنډدي[1]
دوی له مخ دخدایه رغ[2] دی
نورله پښتو یې زیږ نده دي!
کومه نوره یې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د نیستمنو کوم ګناه دی
چې نیمګړي، نیم کوره دي؟
او په هره یو ستوله
پوځ، پرېوتي او روږه[3] دي!
که د اصل کړې پوښتنه
آدم‌زی ټول یو حجره دي
له یوې حجرې راغلی
قام، قبیل، تپه تپه دي
لوړ، ژور دی له زبېښاکه
شته په نیشتو[4] آلوده[5] دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمنی را زرغونه دي

---

۱- شاګنده = چې شايي لکېدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روږه = تباه.
٤- شته او نیش = شتمن او نیستمن ، ٥- الوده = نښتی- اخته

له شته منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرګه دي

دفرعون دکور د ننه
په پاڅون آخر موسیٰ(ع) شي
دباطلو بناماران تول
تار پتار یې له امسا شي

○

عقل لیت دی، دیوکي ده
پرې قدم قدم رڼېږي
کلیمه هغه شهلیت(1) دی
چې ټول ښروند پرې جوتېږي

○

دآدم د شاه ځامنو
توري هر کله ښروندي دي
د وختونو په آسمان یې
په ځلا ستوري سپوږمۍ دي

○

د زړه و پیرو کارونه — نه میرونه به بیا کړي
شاه میره کړي هغه چارې — چې پیرې پس یې دنیا کړي

---

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت.

○

چې په ځان پلن(۱) سوري نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کوناره چې دمه شي
هغه توري نيزې رنګ کړي
هوديالي نيزه باز کوره
چې په ماته نيزه جنګ کړي
له يوې بلې تپرې ته
د زړګي(۲) زمري غوځنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځني څنګ کړي
ننګ په حق باندې کوونکي
لکه ځان باندې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځني واخلي
بيا ورپاڅي جهان رنګ کړي

○

کليمان د ژوندون لاره رب د سترګوکې په ډک کړي
ځيرکان يې په ليتون کې تر عمرونو سر غوندک کړي

---

۱- پلن سوري = په پسات پلن، ۲- زړګي = پرهار ژلي.

○

دی یکار څه رنګ اړیکی
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او د ژوند لویه کړمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړ بنجړ[1] ژوندینکی
یو موندړی[2] زړه یم اوده دی
د بدلون پدې څاندړه[3] کې

○

که آدم بې پوښه زړی
څه پیرمخی[4] رغانه وي
په ناتار د مرګ صبا به
میراث مرې هدایره وي

○

د بدلون پدی ناتار کې هم یو زړه یم، دې څوندې دی
که صورت دی یواړتیا ده نو دا زړه یم، دی موندې دی

---

۱- انجړبنجړ = الوول، ۲- موندړی = راکس، ناوی، ۳- څاندړه = هڅه- فریم سکلیت، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی، بدلیدونکی.

○

پیرخواره[1] یې له پښو یوسي
چې مونده یې وي اومړی[2]
د کچبه «زه یم» آدم وي
خپلو نغوتو[3] ته باد وړي

○

د آدم له «زه یم» پرته
نور هر څه چې دي نوربږي
له هر زبږی[4] د هجرې نه
لکه ځان هسې رازبږي

○

هم برحق هغه ژوندون دی
چې د «زه یم» په غبرګون دی
که وجود دی که ستولنه
کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شړنګ نه دی روزنګوی[5] د بدلون دی
د هجرو په کېج کې اوسي او د سترګو تش الوون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړی = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غوښتې.
٤- زبږی = هغه څه چې زیب ول کوي، ٥- روزنګوی = روزنه کوونکی - لویونکی.

ټول فطرت يې خوري تالـيږه[1]
آدم زړی جدا جدا وړي

د ځـانی سـود غم خوړونکی
له حق لاري پښې پـشا وړي

چې په نور و خپـله ويش کړي
خپلې برخې نه سـيوا وړي

چې مشال نور و ته جګ کړي
خپلې مخې ته رڼــا وړي

ژوند او مرګ يې دواړه سبکلي
د خوږلو چې دعـا وړي

چې له خپل ميوه آګاه وي
د بشـر درنې په شا وړي

اوښتون[2] د ژوند جــامه ده
چې شي لټ . په هغو واوړي

---

۱- تالـيږه = په جمع - تاله .

۲- اوښتون = انقلاب .

د ژوندون په لویه لارکې
مشالونه بلول دي

د تیرو په تور تیپونو
لښکرونه خپرول دي

کتابونه د پردې جهل
سوزول او بادول دي

د آدم نه دې یاد کړي
د عمرونو هیرول دي

که مذهب یې هم سره ونځي
چې باطل دی نیښکول[1] دي

که خوندي دي په کعبه کې
چې بتان دی لړول دي

په هر پل د پرمختیا کې
برابرا[2] شوي غورځول دي

چې ښکېل شوي په غور ځنګ شي
ښکېلکونه یې غوځول دي

---

۱- نښکول = ورکول- په نیښ لګول.

۲- برابرا = په پلنو ولاړ.

○

د سندان تندي به چرې کړوبخۍ نشي
د درنده وپلکو نوجوړ که پرې ناتار وي

د مېړه نېستي يوڅو وږځې نېستي وي
نه مېړنو شاعري نېسمن او خوار وي

د رند و عقيدو خلقو کې همېش له
ښستنان د غرېدلو به په دار وي

چې باز ونه يې په لاس کې چتي[1] کېږي
ځان به وپوښتي چې دا څرنګ باز دار وي

چې توره[2] د حقه ملا[3] نو خپلوي څوک
يو قدم يې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې وړله بويه
که رنا يې لاړ ليدلو له پکار وي

د رباب خواره دې نشته آدم خانه!
بنا يې خلق چې له ميلسه[4] دې ويزار وي

---

۱- چتي = ورکوټي مرغۍ
۲- توره = قانون - لاره - منه
۳- حق مل = دحق ملګری
٤- ميلس = مجلس

ننګیالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسین کله پښنه نیسي له غورځنګه

چې ترڅو د ظالمانو نوغې شته دی
حقملان راپسته نه شي څنګ له جنګه

پوهګړی د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې د کلیمو[٤] تر قلنګه

چې یې مټ د غلیمانو وي کښلی
نه ویرېږي یې له تشه ډنګه ډنګه

د مردی توره میدان کې لاسبه کېږي
خلاصه نه وي د کاټې[١] توره له زنګه

پنچپل زړې کې زرغون شه او مسوړ شه
څو دې نه ده لاکوټې[٢] خاورینه رنګه

چې یې جسن دتن په موږ کوپه پرواوړي
خودهغه ته وي کړنجې د جهان تنګه

---

۱- کاټې = تیکی - چړتون

۲- کوټې = د داني کڅوړه

یو بری د یو جنګ غالی دی خوږندي که
بیا په بل میدان بریښنا او تالندي که
چې دلوی ځښتن د لاسو سره بنا یي
شاځلمیا! ځان په داسې کاربندي که
په حجرو په جماتونوکې تورتم دی
د ډیوې غوندې لنبه دې په تندي که
د میړه د ځوی آواز له خلقو بېل وي
څوک به یې ځنګه په تولنه کې ګوندي که
چې دخپل عمل لاره[1] ستړې کړل
څوک به ځنګ هغه وګړي راژوندي که
له غوجلې د ځاروو به ځنګه وځي
چې په مینه مینه ځټ ته غوږوندي که
چې یې وینې د نهورنې له چانه وي
هغې پاځي بې وسان په ډاګ ګوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوښتې ته دغاړې

له خپل تنه پلواښه[۱] شه

د ټېپانده اباسین خپل

لکه غاړې په ساته شه

د کړیز سختې په ځان کړه

پسته باز په الواته شه

په خپل ځان قیدونه کېږده

زرغونه شه او بیا شته شه

پولې ړاښکه، پانګې[۲] کېږده

بیا په زغاښت لکه میړه شه

د ښښتن دلارې مل شه

له ښښتن ځنې لارغه[۳] شه

په ړیبلوچې ورک نه شي

په لوښه[٤] لکه واښه شه

دختیځ له الا الله -

لا الله د پرېواته شه

---

۱- پلواښه = مروړی - پلکواښه، ۲- پانګی = میړ- ډکځ - مرام

۳- لارغه = لرغونی - وړاندې، ٤- لوښه = خصلت - خوی

○

په ټولنو لیوګان که دي
هروګړی لوی اوکړ[1] دی

لوټنګر څکه په نیش دي
درناوی چې په دوستر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي
څوک تاله، څوک تالانګر دی

چې درنه دله[2] یې مله[3] ده
د هغو سوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو
څوک یې موږ، څوک یې نهر دی

هرټولنه پانګه واله
د ځان بدوله اشر دی

عقوبت به غرغنده شي
داچې نن دکیا[4] سوسر[5] دی

---

۱- اوکړ= اولال، ۲- دله= ګوند، ۳- مله = ملګري، ٤- دکیا= لوګی.
کوونکی، ۵- سوسر= د دروسپیاکو او د چې نری نری لوګی کوي.

چې زمانه ښکلې بڼې مني
وا به نه ځلي توري څښتې
په کڅونو يې پسرلی شي
چې څوک ونغري يا سکروټې
خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستا يې د نيکه ګټې
د يوه ماته، باقي سوي
د تور ګټ سوي ديوټ يې
نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو خټ يې !
دا ميدان د تيرو تورو
ستا مصري توري دي سمتې
چونک ايره يې پاتې شوي
وې انکار د دريې سټې
حق ننګ نو ته وريتيږي
د بې ننګ هر کاله بټې
لات منات چې ګذاري څوک
شي پخپله يخې ګټې

○

خړې، ځکه شوې، خیالي نه شوې
د «لا» شی ځنې شی نه شوې
د جنس ترغې نه نامینده
تل نچه شوې کنې نه شوې
تشه شخوله - خالي تیکی
ببل توره، توبرې نه شوې
له حجرې تر سړي راغلې
لا په «زه یم» سړې نه شوې
له مذهب چې ملستل دی
لدې مړینې ژوندی نه شوې
انځاره کې چې دی پروت دی
هغه ستر آدم زی نه شوې
مسنګیری درته آسمان دی
ځکه باز، باتورزی نه شوې
هر آدم چې دی فرعون کړ
یې بلواک، ځانوکی نه شوې

---

۱- انځاره انځور- زړی- نقش
۲- ځانوکی = ځانواکی

دوکړو سالار پروت دی
خرسواره چې شاهسواران کړي
دکوشولارو کسو دري
ځلن ستوري دآسمان کړي
کوکوشتان داومومختو
سندان سري اتلان کړي
لوړ او کوز سره یو سیال کړي
اړوپېچ[1] واړه یو ځان کړي
چې سړي پې نه سړي کړل
راغوزار هغه بتان کړي
دلالونو په ځلقولو
دمشکنو بازار وران کړي
چې جس من پکې قدر پړي
راد بر هغه دوران کړي
دادنوم مسلمانان تول
پرېښتیا مسلمانان کړي

---

۱- اړوپېچ = خپلوکي په ضد ضدی - په غوټو پړو.

په میروکې د هر ګلونه راټوکېږي
سره پوپینو د لاله یکې جوړه ده

ننګیالي دي چې د لوی څښتن په تاري
پوره ټکری د نری ټوله باره (۱) ده

ته تنزېږي، د نیاده د بازونو
ډېرې ځکه ژوندون دی اداره (۲) ده

غزا وشوه که په نوم کلیمه کوې
زرغونه دې له ژوند کومه کلیمه ده

هوښیاري (۳) په ټپوهوند دی، ښکار ترنښې
که نه یې نن هم پرته هغه د ګزه ده

د ګزی غشی (۴) دې هر وخت په سر دی
په دیدوان (۵) باندې دې اره پره، وره ده

صبا ابنکه د شولان ګټو ته منتې
که دې نن ګټلی قام لره اوکړه ده

---

۱- باره = مسئولیت - ذمه واري - پړه، ۲- اداره = وړانه - ګټې - لوټې،
۳- هوښیاري = ښکاري، ۴- د ګزي غشی = دوري پرې ګوزار،
۵- دیدوان = شیش - څیرکوټه.

لکه خلق هسې تولنه
لکه کوږ هسې يې غار
لکه اوبه هسې يې سوري
لکه پسنه هسې پيزار
لکه باز هسې يې ماريې
هسې باز لکه ميشکار
لکه ږيره لاوڼ هسې
لکه سر هسې دستار
لکه توره هومره کټه
ږنه هومره ځومره کار
داوجت الوتو پانکي
دشهپرو په مقدار
دوريو ږيا ترکوره
نمو په تول جهان اوڅار
دبې ننګه په رنګ ديروي
ننګيالي نه لري سار
چې دلارې اوښکو نه وي
په هغو جوړېږي لار

لا پې د ږو کړې کاندي
یو منصور خېژي په دار
د بې مټو وار ځنډېږي
د مټ دارو وي بې وار
د زمــــرو نه اخستلی
سورلنډی[1] شي کله ښکار
د آتیانوس باری وي
په ملغانو کرمـــار[2]
کلیمان نه شو ټول عمر
له خدایي چارو ونه کار

مذهبونه دی پوچ شوي غربېنونه[3]
مذهبیان د خپلي ما تي بیرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چي مذهب یې رواښته[5] کړیدی هډونه
په هغه سالو چي ځان لره دوړېږي
دی عبث دانځوروونو کــــــــړاوونه.

---

۱- سورلنډی = کیدړ، ۲- کرمار = یوغردی، ۳- غربین = یوټوپک،
٤- راتاندون = بیا راغبرګېدل، ۵- رواښته = وراسبته.

له مذهب يې چې تودې وينې کتنګل شوې
مسلمان بايلل ملکونه سنګرونه

له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولي يې په نيش دي امتونه

د مذهب دغونډلانو[۱] تنستو کې
ګل ډيوکی[۲] دي دعلم د بيوستونه

له مذهبه هک ځلمی تول ريز کي شي
ريزکونه کله کيږي لوی کارونه

ټکي ټکي دکتاب نن هم هغه دي
خومذهب ترې نه وښکلی دی ساهونه

چې ترڅو دغه مذهب او داملا دی
وي تالابه د تالا قامونوخونه

پوخ سنګر دی شاه مرډی ده
توربازي دی تيغ بندي ده
له باطل دځان ژغورنې
يوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غونډل = غټ غمی

۲- ګل ډيوکی = دګل ډيوي

لہ فطرت دې پړده ده

لہ فطرت دې سرزوري ده

کلیمہ دې سرېتوب دی

سرېتوب دې سرهسکي ده

دبل غم هم دځان غم دی

دا پښتو، مسلماني ده

○

پہ شړوندی کلیمہ بیا خلق شړوندي کہ

دالہ وارو وړستو شوي بیا لومړي کہ

دا چې خاوري بې لہ مخہ نہ چانېږي

د سپوږمۍ پہ دود څوږ بې پرقندي کہ

ورونہ ورونہ سرہ غوښې پہ چاړه کوي

لہ ټولیزه شړوندونہ ورکہ کوند کوندي کہ

شاه میروږنہ لہ زړکونو ستو وتیرشول

بېږي راښکہ خپل ملګري کړندي کہ

دغي بې ننګہ خلقو مرګ روا دی

چې ګزران دبل پہ سوي کرپندي کہ

د پسرلي درنہ ورځہ شہ پہ خوی کې

ځان ورښت، کلہ برېښنا اوتالندي کہ

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلګونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
دستر کوره وکاګیره تلل نه ده
د ایلتیانو[1] کلي وړانول نه ده
د راسمنانو بې سمول نه ده
که اونډي[2] جونډي د دوپړک[3] وي
د یکرنګانو غوښې کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب بې ځای ته برخېږول زده
چوړکوړکان هم کړاولي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چې فرعونان بې موزي[4] کړان کړي
نو کلیمان بې تورنول زده
د آذرانو بتکورکي[5] نړول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وړانې پیداکوونکي، ۲- اونډي جونډي = مزغړوني چې غوښې نه منې نه وي، ۳- دوپړک = دورنګ - منافق، ۴- موزیکي = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پرې ډک وي، ۵- بتکورکي = بتخانه .

○

د باتور په څو شهپرو خپلولو
مښکیرک او غلیواز نه باتورېږي

د یو بُت په لرېدلو بُت غلیمو!
سومنات ونه په کعبو کې نه بدلېږي

له کیکره د نښتر پیوند خوړو کي
نښتر هیڅکله نښتر نه پاتې کېږي

چې په پړو کو دي وژلي مذهبونه
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندېږي

چې د زهرو ډک لښتي پرې راسواروي
دغه سوي چنارونه نه تاندېږي

د قرآن واړه رټلي عقیدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهېږي

د تیرو سره ملستي بنا پیړۍ نن
د دنیا په تکی مرګ ته ببرېږي

○

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه یم" سرهنګي یې سلامت یه
مریتوب نه - ملګري د یزدان غواړي

ننګیالو کره غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشونی نه دی
یومخیزی[1] ځیګروره ځوانان غواړي

کشالې غوښتنې نوې د آدم دي
ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیشتینکو کښتې نه شي
د ژوند ستونځې مېړنی قهرمان غواړي

په یو ماره که کاوز شي، سود یې نه شي
چې ژوندي وي نوی ماری زمریان غواړي

---

۱- یومخیزی = چې مخه یې یوه وي - د یوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دی په لاس
چې د هر اوچت اوچت ښکار نه کوي

ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلین[1]
کراولې کړي، یرغلونه کوي

لوګین[2]، اورېزه[3] که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهېزونه کوي

رهبر، کړاو دی تول دعقل چې نن
برېښنا دژوندی تومن څغلونه کوي

د آدم کار دی کائنات پرنه ول
بر هغه قام، چې دا کارونه کوي

چې په فطرت یې ده لتی اړولې
د هسکوستر کومعاشونه کوي

عقل بهیر کړ غور ځنګی د شعور
وېروېراني تول مذهبونه کوي

پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
د بل موټانه دې سوالونه کوي

---

۱- ستورتلین = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګین = د کازوېږ یا نیبولا،

۳- اورېزه = هغه نیبولا چې ستوری پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په څنګی، فطرت په ترڅي
تشې ځاندې وي، زور يې اوبه وي
عقل يې شل وي، هڅې يې کټه
په غټو کوږي، ولې ړانده
نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي
او نه پرې ورانه که چرې نه وي
د ځوانمردانو قط نه وځي
نه يې خوابه وي، نه يې تراخه وي
په نن په "زه يم" د وارو نيستمن شي
ځوراک پخساک يې خواره او ښبنه وي
په زاړه شخوند کړي، نوي ترې نه شي
نوي بريد و نه خو د مېړه وي
چې يې راغوند کړي وار کړلي
د يو ګنجکي دا زښت نه وي

د لوکین ود لړمون نه
اوږین ستوري راغونډېږي
ستور تلېزې سره وهي لا
کائنات لا پراخېږي
که یو ستوری ورژېږي
نوی سل راوټوکېږي
د ژوندون زرغونېدو له
نوې ځمکې سادېنېږي
چرته ژوند دی په بخښنچه
چرته کچ، چرته ځوانېږي
د زرها ستورو میروکې
د ژوندون غبرې غږېږي
یوه ستا دا ځمکه نه ده
چې ساه دار پکې هستېږي
شنخړي ځمکې ښکته پورته
ستورتلېزو کې څرخېږي
هغه ځمکه ستا دوتر دی
چې دې لاس وروړسېږي

عقوبت به له دې ځمکې
درته کړې په سر کېږي

د مېړونو ستوړو بېړه دي
له سپوږمو ستوړو تاوېږي

د یو نوي کور لټون کې
د آسمان لارې چاڼېږي

عقوبت دا ځمکنې به
ستورکۍ زو ته ورسېږي

د ښوندون څومره رازونه
به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي(۱) پاینده هغه اوښتون شي
لا الا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مرې یې ګرځي په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستور برېښون شي

د اولس وینې نه ښېښوکي هله ورک شي
دربړیا(۲) اولس چې کله په پاڅون شي

داو یارلي ځلي هسې ولاړ نه دي
د مردې کارونه ډېر په شوا خون شي

چې په سین داوراو وینو شي ورپوري
قافله یو قدم مخکې د ښوندون شي

که هرڅومره سنګرونه له ځان تاو کړي
عقوبت د ځمکې تبې هرڅاروڼ شي

چنیشنې(۳) عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو ټولنه مریستون(۴) شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربړیا = خوار- نتلی- ځپلی،
۳- چنیشنې = چې چنا سکې پکې شوې وي، ٤- مریستون = هدیره.

○

د دوران په زلزلو غږونه وارغږي
په شکلني ډېروکي څه له ویاړېږي

تلناوونه یې رواسته، مو ږي خوړلي
چاپ کېږدي کي به ترڅوپوري اوسېږي

د پرلسبتر په چورلندو ځمکي له تللي
کچه ډېلي! په خپل خېږڅه غلطېږي

د سورسین چپي دمه وښکه له یادو
ای فرعونه! چي کلیمٔ پسي پاڅېږي

د ملخ ځانګ سړدي ملاشوله دوه غبرګي
ته لا ځي د آتي بارته لاندي کېږي

لا اله بتکورکوته ښکرپوکل دی
که مؤمن یې ترووستي بُت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي
کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بر وړته د ګډوخپو لښکر شي
کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مِس ځوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي
ننګیالي په جهان پتي را تلي نه شي
دوی د هرې سرښیرې[2] وتلي سر شي
د هر کور انغړي تود، تیاره شي ورکه
میړني ځلمي په هر لوري چې ور شي
له تونګه[3] د عیسیٰ چې نمړي وخوري
که د ختو کوګوشتان وي په وزر شي
د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یوځلې هم د بدر لېچو ر شي

---

۱- لړ = کوز

۲- سرښیرې = د جنګ غالی سرپړه

۳- تونګ = شکور

دغلیم د برید او چڼغي(1) حاجت نشته

لاس ترکړیو وچي پخپله سنګروال شي

دکور، قام بدخوړمنځی(2) په ځان ناتاردی

په تېغه که باتوران وي تش پېخال(3) شي

تانک دکټي، دیرغل یې دلاس وځي

چې دچار اتلونکي توري نه اتال(4) شي

ځلمي وار په خپل اصل دي لالونه

دروزه لو چې څوک نه وي کوتي لال شي!

ځماتونه، مدرسې او چینې د پرشول

خوله چا هغه بانګونه د بلال(رض) شي

○

چې دخاورو له کالبوته

او ده «زه یم» برسېرن شي

په اجل باندې جلا شي

بنیادم ولاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = ایه، ۲- بدخوړمنځی = بې اتفاقي - اروپېچ، ۳- پېخال = د باتورغل - غرباز، ٤- اتال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار.

د ژوندون دغو ځنګونو لوی میدان دی
چا ته پوله نه سپوږمۍ او نه آسمان دی
د فطرت غیږه پرانستې ده هر چا ته
بو د هر چا هم په قدر د خپل توان دی
دا په تا ده جوړوې کانې که توره
خپور چاپېره د جنګړو واړه سامان دی
نیمګړتیا کړمې تولې اړ په مټ دي
مټ کول د بنیادمو پوره په ځان دی
چې یې زده د سورکو وینو کښېدی دي
د هوهۍ ټاټه کمې پدې جهان دی
د باتورلمځي دنیا ده بېله بېله
یو د ځوړې، بل د لوړې ویږی شان دی (۱)
چې سر مزی د نوښت (۲) یې په لاس درکې
دلوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

ا- ویږی شان- وېږی انوونکی، ۲- نوښت- پیلات- ابتکار

چې د"زړه" ټول رنګونه
يکمانه شي يکرنګ شي
لکه غونډۍ چې چړې شي
اباسين شي په غور ځنګ شي

○

سل بخونه مې چې يو مخ شي
"زړيم" هله خان دوران شي
کائنات کړي د پښو لاندې
سلاکاره ديزدان شي

○

چې مې "زړيم" په تنه کې
لکه بُت سلګون سرې وي
آدم زی شي سل لار ېزی
له يو دره سل درې وي

○

د توریال زړې راخېژي په سوسرکې
دهوډې هڅې و باسي لارې غرکې

توربرېښونه یې پخپله غماز کړشي
مېړه کله پټېدی شي په لښکرکې

"ستورونا"[1] کړښې د ځمکې کړله ماته
ښخوي بیرغ د ستوروخېل دوتر کې

مرجونا د نهنګانو له کاله نه
ملغلرې راپنه کړېدي څادرکې

زهري خوږه په یوماری ورپېوځي
بله ماره یې نیولې وي نظرکې

مړدکي، دارو، ټک او اوربشینه
دغه توکي د مېړونو وي سنګرکې

هره ونه خپله مېوه نیسي
چاموندلې دي کروسکي په کیکرکې

---

۱- ستورونا = (یو وزن د مرجونا) د ستورو ښکاري

زردار هغه کورکښان دي

چې ثروندي بنیادمان خوري

سر یې خوري په پټه یې نه خوري

سنه برسیر یې په میدان خوري

د بې پرسه کلو خلک

څه مُلا ، څه دوتریان خوري

یووَری یې په شا پروت وي

بل شنې لښتې بارګیران خوري

د باطلو راجواړه ده —

په برمت یې بې کسان خوري

روایات را پا خیږدلي

په حملو حملو قرآن خوري

دآدم په بدې ورځې

کلیمان وارو خپل ځان خوري

چې په منډه د هوډ یالوځي
لاړ یې خود کړې کړې وي

چې په څرخ باندې سوری شي
د هغو تورو لاشې وي

چې له اور ځني ونه ځي
نو هغه پېژې اومې وي

له چیو چې انګوچه شي
پولادي هغه سینې وي

چې جنګ ړنړ یې ژوندانه وي
د برم دکې یې شملې وي

چې دمټ مجال یې نه وي
د هغو نا ندرې کیلې وي

د باتورو هنې ګوره
څه که یو موټی بنې وي

چې وهې د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ثریانې یې تاو نه شي
نو هغه لیندی پرکې وي

چې وهي د تنګسې تـوري
په هغو کله تنګسې وي

سپوږمۍ، ستوري، ستورتیلږي
د میړونو برآمـتي وي

د سرهنګو غور ځنګونه
د تاریخ زرزرینې وي

د اخلاص د شاهسوارانو
منزل لوی، لارې تونبې وي

چې منګل یې د زمرو وي
د هغو مارې سـکې وي

په راسمنو باندې غرونه
د مالوچو پاغوندې وي

پرناورې سنګر بالي
ویښې سترګې پلیتې وي

دوږنګ تبنتي ګن پرېانه
چې د بدر تړېسې وي

د میړونو لوی لاسونه
خپله تورې او بلې وي

د ګیدړو په نصیب کې
د زمرو پاتې درنګې وي

Reserved -1-

چې يې پښې وي غزولې

د هغو ډاګې سپېرې وي

چې له ژوندو ماتې وخوري

زور يې ټول په موسلې وي

د مړو واکو مسئولو کې

هم د مړو مړينې کيسې وي

کونې هم ځان سره کوونکي

چې يې خپلې پښې کړې وي

ديو روغ دسيالۍ نه وي

د ړندو که پرکنې وي

○

قام دلې دلې تورو توربرېښ کړي
دغه کمال د اولسواکــــي[1] دی

هر دلیت خپلې دلې ته سنه وایي
دغه دستور د دلــه بــازۍ دی

پلویان راوړي، ناحق به حــق کړي
"قامي[2] جرگه" کې سوال د لیږۍ دی

چې "جرگه غړي[3]" ټول شته منان وي
وارې هیواد دی ونډې ونډې دی

کاواکه دروغي واکمنې دلــې
څوک یې د مخې د کــاواکــۍ دی

د "سلاغونډه[4]" سپیڅلی لار ده
ولې هله چې د حــق په تــار ده

---

١- اولسواکي = دیموکراسي.

٢- قامي جرگه = پارلیمان.

٣- جرگه غړي = ممبران.

٤- سلاغونډه = د شورا غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر يې ننګ دی
واړه شروند يې د کتاب په رنګ کې رنګ دی
چيلي نه او سېکي په سمڅو، په لغمونو
ببل توره د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "د ننګ قامتو" سر او سکلي
سالاري يې په نرۍ پورې قلنګ دی
هم د علم په دنيا يې بيرغ جګ دی
هم چاپېره يې د سينه سرې توب ډنګ دی
هم يې کته، هم يې مخ ملا زي ورکړه
خپل پردي يې په نماڅنه باندې زنګ دی
د زيارت خوږ دو ته نا سته بې کتابه!
ستا کوربلارې ولايت د پلې لنګ دی

○

منکران په دليلونو منکران دی
او ملا د بې دليل مذهب امام دی
روښانه خيال نه کافر دی، نه منونکی
د تسپو سره ګرزان يې له نا کام دی

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي دړکه
چې يې خم پخپله وچ او نسکور جام دی

پوهګړي توري ترهيبي، څي به دړه
چې ملاور شبکاره کړي کوم اسلام دی

ليشتکي له ليشتکي مفکوري زيږي
ځان وګوره په جهان دې شوم سرسام دی

مذهبونه په کړي د نيمسانو
دشته منو د خوندي[1] کتو سمام[2] دی

خدای څروندی مال يې ميرات دی
څه بې کچه ناروا دي

دي دهولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي

داد لالاد دوران سر دی
دوتريان چې په کربا دي

د هغو لپچي تاويږي
له پيروونه چې په غلا دي

له زما، له زمايي نه
پساتونه په دنيا دي

---

۱- خوندی = په امن- Safe ، ۲- سمام = بند بنا

چې لسین تري لاس نیوکړي

شاه میرونه د الله دي

امانت د اولیا دي

چې له تا ځني سوا دي

چې د حق او د باطل د غره راشي

د بې لاري پلار نیکه په لاره مه شي

چې توره[1] یې د بتانو لسرول وي

خدای دې وکوماري ته هغه میړه شي

چې یې غل غدو له ویرې بلوسه کړي

په مور چلو د قام ویښ هغه لیمه شي

چې مرښ واکي ولسونه پرې زغیږي

که یې سل ځله توکي، هغه تارخه شي

څه زرغني زرغی کوي چاقهرمان ته

که ملا وتړي، هغه توریال به ته شي

غرونه غرونه واوري هله به شي ویلي

چې د نمرېشان پرې سور په ایشېدو شي

چې یوه پلار کني ومانځي اولس ټول

ته به هم د اولسیاسو په وله[2] شي

۱- توره = دستور، قانون، ۲- په وله = په دوډی - پښبه ورځ

چې راشپېل دې په راشه د آسمان ښخ کړ
بیا به هله د سړي په نوم بالــه شي

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
د قام جوشي بیا پلوشینې شولې
د سرښندنې کرامت وکوره
د ازغو غیږې ګلورینې شولې
د پلار خېرې دې کائنات دې واره
کاش چې دې توري بیا پلرینې شولې
با توروزي خپله به راوزیږي وي
که د پروکې دې مابنمینې[1] شولې
غږ او راغه یې شیخ ملي و نیول
چې د زمري ستړګې تندرینې شولې
د توراني لېوني کریکې سره
څانګې غړانګې سندرینې شولې
چې بیا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرینې شولې

---

۱- مابنې = یوغر

کلیمي لره ښروندي زړونه پکار دي
اور له لوټې په پنډه کله پیدا کېږي
په خوږلن کې له بحر کو توغرېدونکو
تو آسمان ښه کوونکی او رتاند پسږي
چې یې نو د تنې وچ، ځیلي ښروستي شي
په کږووږو شیبونه راټو کېږي
د مذهب په کُن خوږلو لختو لړو
د سرسوري د قامونونه جوړېږي
هِکُ ځلمی بویه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولیشتکو نه پورته کېږي

○

مړه یوکي مذهبونه
لا ورې نه شي رڼولی
د بوزړم انقلابونه
آذر نه شي راوستلی

○

دښروندون اوږدي کیسوله کائنات به چاړول وي
له موجود ځنې پیشسابه ترلوکیږي پورېې تلل وي

○

○

چې په هغو شرعو ننګ کړي
چې پرې کسرې وي وختونو
ګویا ځان لره توزیز[۱] کړي
د کورونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې
نه نیم سول شته، نه سوړ شته
د خلیل(ع) مټ دې تود او سه
د آذر چې بت کړه شته

○

د هندو عقیدو بنار کې
انقلاب رابرسېرن شي
د زړو خدایانو مخ چې
ولسات ته کرغېړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبې
بتکورونه رانسکور شي
چې د زړونو په ورشو کې
حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

(۱) توزیز = بندوبس

○

خلیلان چې له تولـــنې
د خدایانو وړکول کـــړي
نولومړي د دې خدایانو
خدایي ورپوچ کول کـــړي

○

کلیمان دفــرعــونـانو
پاچایي هله غـــوزار کـــړي
چې بې لاړې ولسات تول
د دلیل په زور په لار کړي

○

دکلیم د درنې پــرګـــې[1]
خلقې وې وارې زبــرګې
هم یې کتـه ، هم بخښـنه
هم یې مټ وي هم یې سترګې

○

چې د وخت اړې کـــړې کې
بځای تینګ لکه د غـــرو
د خپل پوخ «زه یم» په مرسته
دهمه پرګنو ســـرو

○

---

۱- پرګې = پـرګنې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسې تش د عقل اندېښنو سره
ځې په تیاره لار او ور اوړکو سره

عقل که سقراط دی، بریالی نه شو
ګرېوی په لاس د پرشوکشالو سره

ستونځو د ژوندون له برمه پرې یستل
دل يې چې سپوږمۍ ستورې کړل پښو سره

لا تر اوسه لرې له خپل ډکه يې
لاړې کله مارکس، کله روسو سره

کله په يوې کله په بله ځې
دروې دې نيلې د بړېوکو سره

وينې او ښکې وچې شې لنبې کښېنې
عقل چې بلد شي الله هو سره

راشه د کعبې درشله ونيسه
مل شه اى ځيګره کليم زو سره

آدم زی له مرئیتوب څني آزاد کا
د "مَا کَانَ لِبَشَرٍ"[1] سبق ورته یاد کا
چې د بل د خولو ونه م تري راخیژي
د هغو ماڼو کرکچو خوربنیاد کا
د آذر د بُت خاني لرولو ورستو
شړی وزرا ورځه کور د خدای آباد کا
چې صبا په غرقیدو شي کلیم واپي
د دوران فرعونه انن ئې خدای رایاد کا
په لوخړو کلي پټ، په وینو ږوب دی
د کوچني فکر سالار دې څه فساد کا
د مری په ځای ځښتن چې زورتر نیسي
د عمرؓ انصاف به غل عقوبت ساد کا

له کرېوانه د فطرت یې چې لاس وښکه
هغه قام به زر په غاړه کِند کچلول کا
لا اِلاّ چې یې توره شي د تهولنې
هغې ږب به یرغلونه د منګول کا

---

(1) (ما كانَ لبشرٍ ان يؤتيه الله الكتاب ... ثم يقولو للناسِ كونوا عباداً لی ...)

حق باطل تورېږي توربرېښ دی تل راغلي
حق به نه وي چې باطل سره نیم سول کا

د هر قامونو نه دي غوندي اوبو وړې
په سین غاړه له بارګیرخوشي پرزول کا

رسېدلی په خپل «زه یم» شاه میړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کندول کا

داکاني یوازې تېرو خلقو نه کړې
خلق اوس هم په ژوندون لو نه ښخول کا

د دې کلي خلق ټول سرېخواره دي
په پرو دو فصلونو بلوسې خپل ته شپول کا

* * *

چې ځانګړي سود پسې يې شي وکړي
په ټولنه کې سوراوور په غرغنده وشي

د شته منو شته مني چې خُمار وکړي
انقلاب د نیسمنا په راتلو شي

چې بې وس دي دوسدارود سیالي شي
د زرداره تپې دا کله پیرزه وشي

دوتریان د لوښګو غمونه نه خوري
له لېوه کله زړه سوی د شپنګو شي

زړ داري د پردو وينو لوی اغيږدی
اغيږلي عقوبت په چاودېدو شـــي
الا مې د او ښتون د قلِ الْعَفْـــو ؟
دوترونه چې ورو ورو په کمېدو شي
هغه کار چې کليمانو ته اتـــال دی
هغه کله له مارکس او له روسو شي

له د ستور د باتورانو چې بې ډک دي
خود په جاله کې پيدا يې مښکيرک دي
چې يې ژوند د خدائ لارې په لاروي
هغې سيال دی، هم برخېن، هم په خپل ځک دي
د مېړونو لارډ اکي آسماني لاره
مزغړوته لارې تل د دوپړک دي
له ساده ايمانه ځار يې فلسفي شه
ځښتنان چې د لروکي د بتک دي
شپنکي کوره غرضونو شهخان کړل
په برمته اړم په غوښود کنډک دي
د ننګيال واړه کارونه هـــلي ځـــلي
د ښمنو، بې اسرو په کومک دي

تورښنګلي[1] پرې برې راوړلی نه شي

چې د بدر، د حنین توري ترملا دي

الا چې غونډې دا نه راوړې يوځای له

شاه ځلمی له شاه ځلمو که شا په شا دي

ننګيالي د سرزړو کې د تورسرو

ننګيالي جګې شملې د اوليـــا دي

فرعونان يې چې په مکر کوټ ښکار کړي

زړکول يې بيا کارونه د موسی ع دي

يوکتاب و چې امت پرې ټول راټول وو

يوکتاب دي، او لړوه[2] دوه اويـا دي

هر ډليت[3] د خپلې ډلې د ډوزیه[4] وايي

او آمي خلق حریان، چې تر رښتيا دي!

---

۱- تورښنګلی = چې توره ښکل لري. د باطل ځواکونه.

۲- لړوه = ګوندونه - ډلې.

۳- ډلیت = د ډلې غړی.

٤- ډوزیه = ثنا - صفت.

د ذرې(۱) تنګسې کې بندې کې

ژوندانه کله ځائیږي

ژوند غځیږي، او چتیږي

ذره خوري او سمسوریږي

د ذرې وجود د خیر دی

چې پرې "زه یم" شیرازیږي

د وجود دنیا تاغیر خوري

"زه یم" کله تاغیریږي

د ښتن په لیکه "زه یم"

خپل قامت وته رسیږي

د ذرې ځاندره شي ړنګه

"زه یم" هر کله پائیږي

ولې د خدای ماتې خوړلی نه شي

څوک یې ترلې پرانستلی نه شي

توره به ستا د موزیکې توره وي

د میړه توره پڅیدلی نه شي

---

۱. ذره = (لکه وايو ذره) ماده - چې زیږون کوي - Matter

دګید ړېرنخې دی هرچاوخوړي
دزمري برنخې څوک خوړلی نه شي
که بُت خانه د پلار نیکه ده نوهم
خلیلان غلي کېناستلی نه شي
چې یې بیرغ دالاهو ړپېړي
څوک په سنګرېې وړختلی نه شي
زمانه هرڅوموره که مخکې ولاړه
له کلیمانو مخکې تللی نه شي
دغیرقامونودکټ پېښې تر ناسته
تا عزت داره څوک کښلی نه شي

---

دخیکونو[1] خاوندان چې اړ وېچ شي
رسوي به څوک جاله وایه کوم درته
ځاني سودچې مدعا شي دوکړو
بیا څوک اړوي بلرونه پردې ورته
په زنارکې تسبې وپیلي خلقو
یو مخنیږي مسلمان چې لاړشي چرته!
د خلیل نوم د ثواب دپاره اخلي
ږوندانه دې هتول ناري وهی آذر ته

---

[1] خیک؛ شناز.

خدای دې توان د ميتو رايات د شاځلمو کړي
چې په زړه ور کېو تې دي لوی غم ته
د کليم د پیرې خلق هم هغه دی
نیمګړتیاوې چې د خدای رسوي سر ته

بیا پېنوار د محمد(ص) په ويښو جب دی
د طائف خلقو دی تیږې بیا ورولی
دا جنډې د کلیمې چې چرته رپې
دا د بدر له میدان راغلې ستوولې
د کعبې په توره کڼه لوظ کوونکو
د سر ونو په بازو غاړې خلاص ولې
صدقه د ويښو سرو د پښتيالو ده
چې نن قام د خپلواکۍ خبرې کولې
د سمسور فصل رشه پیمانه کېږي
د تش تورکي پیمانې کله چا کولې
سمندر پې خیری غوځ کا خپلې غېږکې
که اوبه دا لکه و رځې ختو(۱)لې
ساقي خُم ته د شا کاسه سره نا ست دی
خو که ستړکې لېونو بیا وغړولې

۱- ختولې، چې د ختو لهو رکې وي.

پڅه مه شه د توریال د مړدي توره
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه

د ړوندې مفکورې[1] خپله دومره ځواک[2] وي
بې لښکرو کړي را لاندې هیوادونه

انقلاب د کلیمې راغلی نه دی
ځي راځي بوربوړي انقلابونه

یو بیرغ د محمد[ص] به تل رپاند وي
نور د ښیلمی[3] دي باد وړي بیرغونه

هم یو رنګ د کلیمانو پوخ تلل دي
رازېږي نور او مه او په رنګونه

سرچینه یې چې شي وچه، ړنداوي شي
په غورمبا روان اِکاو[4] اکاو سیندونه

د تاریخ په اوږدې پلنې هدیره کې
بې له شناختي[5] دي پراته ډېر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه- فلسفه، ۲- ځواک = زور- قدرت،
۳- دښیلمی = بټول- سراسر، ٤- اِکاو = بردم- ډک،
٥- شناختي = خازي

د هغو قامونو بڼه[1] د بڼې شي
چې لیندې یې د ځلمو شهو تې پرې کې شي
چې یې ګډې مفکورې او هلی نه وي
د هغو د خپلواکۍ کوزې جنډې شي
راسمني د مشرانو چې یې نه وي
بې درنې پګړې پلرینې یې بڼنې بڼنې[2] شي
لاشه تورې بنیادم تشې کاڼې شي
چې په برخې یې ژونده عقیدې شي
د شادو غوندې پیښې کړې د قامونو
چې یې جس د نو ښتون بسمې بسمې شي
چم په چم دی له خاورینې ډیوې ګرځه
له ډیوې نه عقوبت بلې ډیوې شي

کُچ شوملې[3] سره بیل بیل کړي
زمانه د ژوند شاربل کړي
د میړه لاره یوه وي
چې څه کاندي هغه تل کړي

---

۱- بڼه = رنګ، ۲- بڼنې بڼنې = ریبې ریبې، ۳- شوملې = تروې- شلومبې .

چې په ﺴﻼﺭ د شهزاده[1] شي

هغه دوه ژبي ساتل کړي

په فرعون کاندي نسکوره

چې دستور د کليم خپل کړي

دره يونيم په نيزه وړي

که آسونه د پر تيختل کړي

د بنې ورځې په تکل کې

خلق توري هم کالل کړي

د کالا کوتر و ته کوره

چې په نمر پسې غپل کړي

دباتوړانو نوغی[2] دي خوړکړ

درته دي پاتي تش پيخالونه

دلبه[3] مرداره څنډوي لاس کې

تش پټوسان پري کوي سود[4] ونه

د چتو ښکاري دوکزې نه کړي

هوښايي کرځي نيسي بازونه

---

۱- شهزاده = میکیاولي دکتاب نوم ، ۲- نوغی = اصل - نوغی خوړول - بيخ وړکول ، ۳- دلبه = غوښنه - طمه ، ٤- سود = مينه

چې پرې اړې وې د باتورانو
نه ښکاري هغه دنګ نښترونه
له خدای اګاه شول او نه له ځانه
طالبان وايي کوم کتابونه؟
غرا بېن زنګ شه، او توري پېښې
يا تې ملا دی، يا يې بانګونه

وګړي ګوره په غورزو پېرزو
نمرې له يوبل راشوکول کړي
کارونه واړه د لاس سپري دي
څوک شي سکوندلی او څوک سکوندلي کړي
دښته منانو د ينګان راپنډ دي
دښمنانو ونډې وېشل کړي
يو پنجوړ هم خپل نوغی نه خوري
آدم لګيا دی آدم خوړل کړي
څوک په خمڅو[1] پسې رانده شول
څوک په اوږمکو[2] شوندو[3] وهل کړي

---

۱- خمڅي = د نروجوارو د ودې . خوار خواره ، ۲- اوږمک = غوره زېږه خوراکه - شاهي خواره ، ۳- شوندوهل = لکه څاروي چې په ګياه کې تشه خوله ووهي ، ولې خوري يې نه.

د قبر ځای د لولنګر نښته

ځمکه وال ځمکې را انغاړل کړې
دو رېتو غوښو د دوزې خېژی
خالق آخر به منځ ته کېدل کړې

د ځمکې مخ چې په بلوا رئ
دا انقلاب دی، هم دا پکار دی
چې سپور او پلی سره یو سیال کړې
هغه ریښتینی کاروان سالار دی
وار ته دې خوله زرغی زړغی کړې
نن را او چت شه هم نن دې وار دی
مېړه د عقل، غوښې د ښکار خوري
د عقله پلی پخپله ښکار دی
هر سړی ځانته ترخه توبزې
یو څو مړه دی، نور ولس خوار دی
کلیمه وایي په شرنګ یې نه دی
یو سر او بل سر عالم بې لار دی
د ننه په تن کې زړې زرغونه کا
بهر بیا کوره څه رنګ بهار دی

○

ژوندانه کله بېلتون کله کډونه دی
کله مل شه د تېولنې کله بېښل
که دې زور د نړهانې بدلولو نه وي
د دوران کوڅړې خوره اوشه بدل
درناوي او سپکاوی په جسواړی
ستا په لاس ده که کښې اوسې که نسل
نشه توره ګوری لار ګنې نه ده
توریالیه! چې څونه شولې حق مسل
ساد، هغه چې په خولوېې دتندي خوري
تیار خوړی د همه ولسیا غسل
دیکرنکو ګوګل پاک وي تل له ویرې
درغلان او دورنګان وي په زلسزل
ته ویله وې چې کوچې ماهیوان بارکېږ
اوس وهي به پې دایلبند شمال او ربل

○

حقتولنې ځنې پرته هر نظام کې
بنیادم له خپله ځایه راغورځیږي

## د ککوړي د سرې ټوکرې د پاره

آدم زوی بل آدم وته ټیټېږي
یو شته من دی چې ټولنه کې ټولواکئ دی
نېستمنان خو په جغ شوي تل اوسېږي
د ناچارو کَته باندې کښتوي باندې
د چارمنو کټوي بې کَټي پخېږي
د بې وسو د خولو په ترمو څاڅکو
د وسدارو ماڼۍ رنګ، خمې ډکېږي
درناوي چې په موړۍ[1] یا په دوتروي
لولنګر به په کُنځیله خود ارزېږي
بې اسرې آسمان ته غړېدي غړېدي اړي
په ظالم چې به لا کله نسکورېږي
په زوخړه به یې غرونه شي ټول ویلی
په لړزون د ځمکې داسې اورختېږي

بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی
بې ټولنې بنیادم څه دی؟ نه شی دی
ټولنیزه ژوند سمسور د سرې جسکا
د ټولنې مدعا واړه سرې دی

---

۱- موړۍ = پانګه،

په تولنه رېزکې لوی قهرمان شي
بې تولنې قهرمان هم لېشتکی دی

چې تولنه دې آدام په کليمه وي
هله وايه چې خپلواک د آدم زی دی.

د تولنې سره مل، د ځان ښارن شه
چې ستا «زه يم» د ښوندون ځانګړی شی دی

چې تولنه يې باره[۱] دارتيا[۲] نا خلي
هر بنجمي خپل چاروکی هندوکی دی

کليمه واره نړۍ يوه کورمه کړي
د يوې کورمې خوتل يوانغری دی

دا زغوله ويخه سترګې را ټوکيږي
د پسرلو لاره د غنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به ځو ويرېږي
سرې لنبې د خليلانو خوراکه وي

سامري د زړونو بت غلونه را نيسي
د منړو بيت پرک هم په تبچه وي

شرق نا تاريې دوختونو نيمه خواکړي
انقلاب چې يې په نيمه کليمه وي

---

۱- باره = پيښتی، ۲- ارتيا = ضرورت - نيکرتيا - کرمه.

ارګجه چې نظامونه د نړۍ دي
ولسونه خو یې خوړي ارګجه وي

○

د شنډې تخم کړونکي عقوبت وي برخه شنډه
خېږي یې څه کړي؟ چې نه مومي څوک یې وېږي له درست ونډه

○

چې د مال او شتمنو دانه دواړه زکات شي
سړي بې ده هله په ولسات شي
چې نیستي د بېسمنانو نه غوڅېږي
اور دې پورې په داسې خیرخیرات شي
ولسونه په مېړونو شړوندي اوسي
چې مېړونه په نیش لګي، خود میرات شي
شریعت چې په اندول[1] د خپل وخت نه وي
عقیدې واړه ذکنې لات منات شي
د شړوندون پانې په خپلې سکې[2] کېږي
هغه ورک دی، چې پېرې یې په میرات[3] شي
چې یې منډه نه له دین نه له سادینه
د شړوندون خوارېږه په داسې ولس قات شي

---

۱- اندول = تول، ۲- سکه = سرمایه - راس المال، ۳- میرات = Grace - لږه وربخښنه.

د هغې او ښې ملامـــا ته عقوبت شي
چې يې بار له خپله توانه څخه زيات شي

○

هر غور ځنګ[1] ته دوږنګان ورشو ځي
ځان دې پوهه په دې تګ کې هر سالار کړي
تا بيا ګرانه د بهر د غليم نه ده
کور غليمي په اتبار اتبار ګونه ار کړي
د دوږنګو[2] وي نظر په خپلو ګستـــو
کله غاړه کې تسپې کله زنار کړي
چې د ننګ خبره راشي کورغاري شي
تش ميدان کې به د هوز وتود بازار کړي
تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري
شا په شا دې له دښمن سره روزګار کړي
دوه مخيزه شړوند په نه شړوندو ليکه[3] دي
يو مخيزه شاه ځلمي يو مخيز کار کړي

---

۱- غورځنګ ء تحريک - خوځند

۲- دوږنګ ء دوپرګ - دوه ژبي - منافق

۳- ليکه ء حساب

هم خپل جس دی سړیتوب خاوري ايري کړی
ددوړنګ عمر په ځان باندې ستم دی

څښتن ټول د قدر وړ دي پيدا کړي
يو سړی د بل سړی نه په څه کم دی

تړسیمار(۱) د فرعونانو دود دستور وي
که ولس يې تل زغمي، نو ولس ګرم دی

ستور تلينو ته چې لاس شي رسولی
ولې سود يې په ګلونو د شړشم دی

باتوران چې د کونترو ځای له راشي
ای ويږلو! زړه چاودی د غه غم دی

دې ټولنو او دودونو ليشتکی کړ
کمزی لوی له کائناته بنيادم دی

په لويديځ کې لږ له عقله زياتي ده
په ختيځ کې د هر لوري نه تورتم دی

نمړيتار(۲) چې د فرعون وي نزامن نه دي
نزامن هغه، چې فرعون يې ورکول کړي

۱- تړسيمار = وهل ترل، ۲- نمړيتار = د بل د وړي ته ناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې يې جسه وي جابروته تېتېږي
چې جسه نه وي جابر را بغول کړي

چې د بل په سترګو وينې تول رانده دي
روغ هغه چې يې پخپله ځيرول کړي

نه سړي شو چې سړي يې خدايان کړل
چې سړي وي نو بتان نسکورول کړي

چې بلزونه کړي تنزړي، بازوان نه دي
بازوان هغه چې تنزري بازول کړي

ننګيالي دښمن نيمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائي رنګ کې رنګول کړي

په ذروکې يې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوشې لوړ په لوټه تېرول کړي

ډکې ډکې جولۍ خلق ځي له درمن
برکت دې شه ننګياله په رشې

ښاپيرک په تورو ښځو سرښاسي
سور پيا شه ختيځ رانولي پلوشې

د بازونو باتوراڼو پدې قات کې
تپوسانو ځنې غوره دي باشې

د دروغو، د ناحقو منزل لنډ دی
ترڅو پښې راټینګوي پرې مشمشې[1]
لا لیدلي يې بو رسترګی کلیمٔ نه دی
څکه کړچې فرعونان لا په نشې
دحق د وکه له خپل ځای رټولی نشي
د باطل داشد تونه خرخشې[2]
اړوپیچ چې له نقشې دکائنات وي
په بل مخ شوی د نړۍ هغه نقشې

چې د نمر ستر که وبریښي
غرونه واورې کاندی ویلې
حق بربال پرون هم نن دی
که يې نښته څوک په سیلې[3]
داوبو د مخ کیل نه دی
کلیمه د کاڼې کیلې[4]
د نښتر د سیالی نه شوې
که په خېز شوې ډیری ډیلې[5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده = ډنډوره. ۲- خرخشې = جنګونه، ۳- سیلی = ملاتړ
٤- کیلي = کرښې، ٥- ډیله = یو واښه.

بدخوک بدونه نه وایي

خلقي شوې داسې ایلې

چې رنځور باوېړي(۱) وکړي

پوچې شي د دارو هیلې

له پولاد اصیلي زېږي

خړې نه زېږي اصیلې

چې نښتر له برمه دروهي

نه ټینګېږي په یونیلې

لکه کس کړي په ځان غاړې

هسې قام په ځان ځانې(۲) کړي

د هرچا تبر له تن دی

خپلې سپینې خپله پرې کړي

هرڅوک قبر ځان له کني

هرڅوک خپلې جنازې کړي

غلیان له کوره زېږي

پلمه باز څه له پلمې کړي

هرڅوک ځانته تبې(۳) سرې کړي

بیا یې ځان باندې سرې کړي

---

۱- باوېړې = د ناروغي بیا تاندېدل، ۲- کانې = شندې- غاړې، ۳- تبې = د کټې تبخې

خپل عمل بـري بښـــن دی

خپل عمل په غاړه پـــرې کړي

څښتن ظلم تــيرې نه کـړي

هر څوک خپله د يوې مړې کړي

د فـرعون دکـور له درنـده(۱)

کلـيان جګې نـېزې کـړې

په مسور(۲) و باتورنه رنګوي نوکې

د تنزيه وتو دي وينې يې مسوروي

د ننګيال کرلي خبژي، سمسورېږي

ميرې وان او سپينخرې که سوسر(۳) وي

د دوران تا بيا دهغه چا دوس ده

به غ بېتنو د ژوندون چې يې نظروي

د تاريخ نول نـرزوي پـړکـونه سپي

چې مدام د ننګيالو موتى لښکر وي

منګوان په خوشحق د لارې تښتي

د هريو لار په آخر پدې خيبر وي

---

۱- درنده = غولې - جوَس .

۲- مسور = دغوکوتو رنګ - نیل پالش ، ۳- سرسر = دوکبا کښدونکی اور .

○

علیمه لوی چیناګر دی تل تر تله په غوږ ځنګ
سوسرونه پرې سپرلین دي سیمه سیمه پرې ګلرنګ

○

دکشرمشرفرق خوخود وي
څښتن لوړې دی او رسپي تـه یې
د یونه کچ یې په نوروبـــــره
هغه قچیره، خواکمن مبره یې
چې دی خویونه د هغه خپل کـرل
هله په ولـه یې، هله به شته یې
ځکه دې غوره[1] پخپل سراخـلي
دهغه مټ یې، دهغه کـړه یې
دهغه مل یې، په زړه بسیـل یې
له سین زوغونه برېوکېنې نه یې
په سپکوکانو چې ځان دې تولې
دا له خپل ځایه لاخبر نه یې

---

۱- غوره- توره تهمت (... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ...)

پهٔ درست عمر کښې بوږنهٔ[1] دی نه ده کړې
دادی بازدی وهنده او دا میشکاری ئې

یو قدم له خپله ځایه مخکښې نه شوی
ډکانې غوټکی یې ټول عمر په لار یې

نه دی برید، نهٔ دی ولجه، نهٔ دی مبنود څه
هسې لوټ[2] یې او د ځمکې په مخ بار یې

څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسي
په نظر د صرافانو کُټ بنګار یې

حج، مونځونه، تلاوت کړي روژې نیسي
ولې اوس هم زناری یې، بُت ګزار یې

لږ ه پښنه و نیسه فکر له ځان وکړه
چې دا ولې له همه قامونو خوار یې

چې هم دغه مذهبونهٔ دې امساوي
لکه رهونده له ګړنګونو به غوزار یې

دغلیمانو په مسودونـــن
چې زنارونهٔ ؤ، هغه تسپې دي

۱- بوږنهٔ = لومړی ښکار کول، ۲- لوټ = بې هډو کو ځاندره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ــکتاب کښلی ، باطله کړي

د کتاب مینځ نن هغه کیسی دي

انځور هم هغه خدائی انځور دی

ولې پرې شوې پوچ کښیدې دي

چې خلیلانو اوراړ نکـــولې

د امتیانو هغه کعبـــې دي

دا چې یې نـــور د کلیمو خیږې

چې ویخ یې کوړې بې کلیمې دي

د مذهب شړوتي لیندې په لاس دي

ځکه یې ویشتې تل مونډې دي

چې حق ننګي وه ځلمی وغشـــی

چې بې ننګي شوه ځلمي ډرمې دي

د باتورو دور تـــړل ده پـــر

لړه ناسته یې په ځـــــاله

د ښروند بړد(1) کې ، راځي پتي(2)

د نصیب لیک ته اتـــــاله

چې نېستي په هستی مـــارل(3) يا

څه به خلاص شي له زوالـــه

---

۱- بړد = سیالی ، ۲- پتی = وروستی ، ۳- مارل = حسابول .

چې يې ښکاره کلیمه ده
ولې نه دي ټول را ټــــالـه؟
بازداري دې خپله ستاېي
په دېوال له تش پېخـــالـه!!
په نرۍ باران پسخـه شـي
اوم غـرړن لونبی ګلاله!
دبل ګټې ته په طمـــع !
هیڅوک نه ګټي يې تالــه

ځوارږه برسېره کا، تراخه به ورک شي
چاپېر ټولنه کـه هرڅو تـرخـه ده
تیرې به وي ترهغې څــلې څــلی
چې دي ډېوټ باندې ډېوه څومره ده
حُجره، جُمات کې يې رېښتیا وویـل
له يو مغیزنه ولسیا خپـه ده
د رابیا کې بورجل ته ځان رسوه
که لار د سرو غنو چاپه چاپه ده
د صبا لاره څوک د ب کولی نه شـي
معمه داوخت تکه توره شپه ده

پہ سپوږمۍ کوزشه میږنی وویل
دا د برتنګ لاري لومړي کرپه ده

ښه عمل «زه یم» زرغون کړي
بد عمل د «زه یم» زرنګ شي
چي په «زه یم» شهسري[1] شي
دوه جهانه یې قلنګ شي
شي تالا ترغه په «زه یم»
چي دوه مخي شي دورنګ شي
بیا د «زه یم» ژوندانه دی
چي کالبوت دخاورو رنګ شي
چي سمسوریې «زه یم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي
مرګ یې هیڅ کولی نه شي
چي دخدای په رنګ کې رنګ شي
په خپل «زه یم» باندې ننګ دی
په ښښتن که دچا ننګ شي

---

(۱) شهسري = سترسري - لوی سړی .

کښېنېده پرې ستا عمل دی

که دې "زه یم" سرانځور دی

شو سره هسکه دلې هورې

چې په "زه یم" کې سمسور دی

چې ځوانکه[1] یې شي توږکې

تش لمنی، هم مختور دی

ای دخېټې غم خورکو!

خېټه هم، خوش روند څه نوردی

دې آدم، آدم په زه یم

بې له زه یم داخور دی

چې دتش نس او دنوس شي

سرې ذات پورې پېغور دی

دمېړونو تېرو تورو چورنګ يو رل

دا تي په امبالې چې غوره مېدل

دهغو څارو بنه بنه السوزي

سرچپه چې جوړه باز ته نیغېدل

۱- ځوانکه: دزړې یا تخم هغه شونې تیا چې زرغونه ترې کېږي.

د هغو په طبیلو خوږونه رغښتي
چې له حق ځني ناحق ته اوړېدل

چې خوږلي سوګندونه یې د وفا وو
دار یې ښې په اوږو وګرځېدل

د رندو کلي کې کراني خرمېږې وي
او لالونه په سوپیا کو خرڅېدل

د کایم په برخه دا رنګي مڅږواک وو
چې له واکه یې واکي ته پسخېدل

د مېړونو پولادي متې سنګر وي
تور برېښنونه یې شملې د قام د سروي

په پوړونو د جمات خوبونه نه کړي
یرغلونه د باطل چې یې په سر وي

د مېړونو نغري کوندري شرېکې وي
شیخ ملي دوتر یې وار یو دوتر وي

مخور دنړاني هغه تومن دی
چې پرانستي یې په درستی نړۍ وروي

د نړزم چینه به یې هم چړې تاند نه کړي
چې پخپله روستي ځبلي د نښتر وي

په نیزوکې یې د وړانګو ستوري ولاړ شي
ننګیالی د نمر خاته ختلی نمر وي
که د ینګان لري هر څو ستړې وزرې
لویې ماري د باتورو په څیګر وي
چې کاسیر وي په پړونې کې بربنډ وي
حیا خپله حیاناکو له څادر وي
پردې بد شي د کتوي خپلې نګـولې[1]
بدي کړوني خپلو بدو له اشر وي
د میړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
یا د هیړ ټول ماړه یا ټول نهر وي

○

چې یوه یې مفکوره وي
اوله دې نه په ادب وي
په سره کې کُنجي[2] لاس وي
په توده کې یک[3] جلب وي

○

نه نوره د کائنات ده　　نه د شرونډ دستور او لاره
چې یو څو دې په وله[4] وي　　او د نورو برخه خواره

---

۱- نګولی = پټکری - لمده بل، ۲- کنجی لاس = خپلو کې کلک لاسونه ورکړې.
۳- یک جلب = چې آسونه یې څنګ تر څنګ روان وي، ٤- په وله = ماړه - هوسا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میړونو لار[1] لو مړی تورې وهل دي

چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړ شي

د میړه نیکه دوتر چې شته کول غواړي

هغې مهتې بدې راکابزي او نښر شي

د قام مشر هم د قام په جامه بو[2]یه

چې ولس یې د شرې وي، شړیو ر شي

زمانه که ببر شوی اباسین شي

شاه ځلمي ورته پښې بنجې کړي تورغر شي

چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه

نور خو هسې خلقي خوشې ککر شي

د سینا په دونهه پند هتول سر ببری

دیوې دونمې ترمخه یوتبر شي

بزغو[3] پوک وهه، د ننګ ورکا نغارې له

د اخواره واره بنجخې[4] که لښکر شي

---

١- لار= قانون، ٢- بوییه= پکار دی، ٣- برغو= سنکر- تورم،

٤- بنجخې= درې خچې (په اصل کې دوني بوټي سرغوټه وائي .

په توربرېښ چې په میدان کې ځنګیالي وي
سرښېرې کې یې وتلي ننګیالي وي

په خپل کور کلي کې د پر خلق نامستو وي
حقملان په ولسات کې نومیالي وي

چې کلیم ورته بیرغ د یرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بریالي وي

کلیمه پښتوله، په لاس کې ښمبل توره
د میړونو خو هم دغه دوه کالي وي

که لوی شی دی هغه منډ د ابدالي دی
په دا څه که د چا توره ابدالي وي

په سومنات د غوا بین په خوله بانګ وایي
چې په خټه کې یې ګډه بلالي[رض] وي

بازداري پوري پیغور شولي بازداره
باتورزي دي قوشخانه کې تپوسان شول

په ټولنه کې رڼا پوښتي زانغله
که وګړي ټول د سیلمي نه حاجیان شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرعوني او هاماني په زلزل کوره
پدې شخړو کې يو څوکه کليمان شول

چې دېوې يې ستا پلرينې واخستلې
د مېږي له ځايه پورته شو آتيان شول

د همت سپاره دي وبوګنيدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبکان شول

زهريالى له خپلي ماري پښانه شو
په داغه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

ای تورانکی اوردزړه ونوله
ستا يوه کوکه ورکېدلی نه شي
تېره شلونه دازغوکه وي تل
د ستړکو لاره څوک نیولی نه شي

د ګيدړانو په اور روکې چړې
د زمری غورځب خطا کېدلی نه شي

چې شي لاس بری د فطرت په لاړو
په هغو چړک زا پرېوتلی نه شي
د نن په ګټه چې يې سود کړېدی
د صبايي ميدان ګټلی نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له دې ځمکې پورته شوی نه دی
خبر د بل نړوي لار ورلی نه شي
په شاه میره یې انګازه شویده
که یې بنجخی نن لیدلی نه شي

چې د لیچو زور پیدا کړي توره دار شي
چې چنګیز یې وتړي نو هغه لار شي
چې وسلو مټو سره کلیمه نه وي
که د غر پشان تومن وي تار پتار شي
له دستور د کائناته څنګ وځتي
د کندو انبار شته من قامونه خوار شي
بې وسي په دنیا لویه کوتاهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لویې میراني شي کولی
چې د خیښې د غمونو نه وزګار شي
خواري بویه خو په حقې لارې بریه
خوږک کله په خولو وینو چنار شي
نه پخپل بخرکي ولې ناویسا یې
هم بخرکي چې خوندي کړي سور انګار شي

شنه راستي د سروي هیڅوک خیم نه خوري
که پري تیر د خزانونو تر سیمار شـــي

◯

د باطل د ویرتـــکي خو کلیمه ده

له نیمګړو مفکوروهیڅ نه ویریږي
د پرقا مونه به د ځمکي له مخ ورک وو
خود تکه سره تیغ نه وبزی کیږي
زیږي[1] ټول سمسوریږدل ځوځت تر منځ کړي
تلوار ګرندو! دیګ پسوار باندي تو دیږي
پلو یانو د روسوا ولیس! واورئ
دا زیږی ستا سو په ورباندي به نوریږیږي
بنستونه د ړوندون په یوه حال وي
ادا ښي مکر له وخت سره نوریږي
ټول بدلون یا نه بدلون ړوندانه ندی
خوارهغه دی چي یو لور ته ځنګزیږي

◯

په شونکار د ابا سین چې شوی پورته
ولي چپ یې د ماڼکی سندره نه کړه

---

۱- زیږي = زیړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ړاکونه د خزان نه ړکونه تېر شول
خود سروې شنه جامه يې زړنه کړه

چې ړيښتيا ويل د کومو خولو توږوه
بر په داري يې له ړيښتيا و بله نه کړه

ړاغلل ډېر انقلابونه د لې هورې
ولې درسته يو سالار کليمه نه کړه

مېړني په مېړني پسې لوګي شه
خو باطل سره توده يې سره نه کړه

تېروتړو، تهمتونو او خونړې هم
هيڅ کچه د ړيتيا لوعقيده نه کړه

چې د سرو وينو پياشې پکې څلېږي
شاه څلمي هم په هغو لاړو چلېږي

ړسجدې د جماتونو په پوړونو
د مېړه په يوه هڅه نه ارزېږي

ککرۍ د کليمانو وي تل هسکې
شکروري ککرۍ ورنه ټيټېږي

حقملان له زمانې وي پېرې محکې
خلق نور د زمانې په دود ټېرېږي

کلیمه د کائنات سره جنګړه دی

غل د رغل به له جنګه غالي پښاکیږي

ته دې خپله غاړه خلاصه په مړې کا

دې نه مه ګوره چې کله صبا کیږي

دمیړه له منځه پا ځه — دناحق جهان نسکور کا

په چینجنو وستو ګړ ګو — بود هیره پورې اوړ کا

دا خدایان د تینګې نه دی — ولې ته ستړګې د بوړ[1] کا

دقاموننو ونډې ځمکه — دآدم تالیزه کور کا

دا دغوښتو تش لوتونه — په خلقا د جسو نور کا

د ښښتن په ګنبد وکې

خپلې چارې دې انځور کا

په تیرو تورو برغند ځي

ننګیالي ځي په خپل منډه ځي

دمیړه د خولو وونږ

د سپرلو له ګرده ونډه ځي

---

۱- بور = نږمری.

له ښتنه چې هم غږ وي
هغه کار هم کله شنه ځي؟
هغه پښې پرې کړې بويه
چې د خلقو په مرګ نه ځي
د تسپو خاوند ته خير دی
که ځي دار له، لوَنه ځي
وسپينږې خَتې (۱) را وړه
د کلپانو آخر ګنده ځي
چې په ځانګه کې پخه شي
هغه ځمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لاشه موې
څه يې ويره بيا له اوره
زړې مات وړوکي کورکړې
شي همغارې له شهکوره
په چرسو (۲) به ترخو سودکړې
کائنات ځنې پلن پسوره
د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړې جامه نوره

۱ـ خَت: کميس ـ پمنۍ، ۲ـ چرسو: تنګ ځای

سرېخیره تل پائېږي
خیر دي نشته سرېخوره!
د فطرت په هنداره کې
له ښېښتنه ځان ته ګوره

چې ځانمن دی هغه کس دی
چې ناځانه دی ناکس دی
په سیلاب غرورنه لړېږي
څه ارزښت دلې د خس دی
یو په لس، هم یو په سل دی
پیاوړی چې په جَس دی
د هوسو د غزالې[1] نه
دزمري ورتېره وس دی
په زرګونو دلو سَرد[2] له
یو بڅری د اور بس دی
ګړندو پرې ژېره ګل کړه
د مټه ؤ کاروان پس دی

---

۱- غزاله= د هوسو بچی
۲- سرد= یوواښه

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام لکه کرګس

په درست قام يې لګولي
له پېرو راسي ګرګس

دوی ږېښمين له سره واخلي
قام له پاتې شي يکرس

روږي ده ب کاندی ولس ته
بيا کوي مانځه اودس

د بې وس ونده ي کوونکو!
وي ترڅو به ستاسو وس

د «لا ترکضوا» وخت لنډ دی
لاکوئ هوا هوس

چې څتکوري ظالمان شي
سينه يخه د جهان شي

چې خدايان پرمخی پرېوځي
رااوچت بنيادمان شي

چې ځانګړې دوتې ورک شي
په توبنه لولنګران شي
کلیمه هله په پښو شي
دباطل بوډجل چې وران شي
زورداري کې ځانا ځان وي
کلیمه کې تول یو ځان شي

○

پدې شعرو پرکنوکې
هم هغه ځلمی انځور دی
چې د ټول نوغی دخیره
همه چاروکې حقطور دی

○

پوره په جسوشه بیا ګوره
چې یوتن څنګه لښکر شي
د میړه له چارو بریښي
په تندی اخستی غوړ شي
هم دغو برخېزتیا ده
چې خړ دېګ پاڅي نښتر شي
له تنې زوخ چې اوچت شي
لکه نمر پېړی تل سحر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ژړوندی وي د ښکار ځله
تودې وینې خود شهپر شي
زمرین ګوا ښنه شاه ځلموته
سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کړي دورمې دي
ځکه یې غشي بې پلې دي
چې له باز چېتو ته ناست دي
پېغالونه یې ولجې دي
ولسات لکه تنزري
د ښکاریانو په ښچې دي
د بل مخه یې ښتوله مخه
پړکني نه دي ژړمې دي
د نمرود وسیلي وایې
له آنزرې عقیدې دي
چې نومړي په سرو دي
د سرو تشي پيښې دي
د باتور نخښې یې نښته
لا ملخې تولې جوڼې دي

د یوشرق نرغملونه دي
داپړي دومره اومــــي دي
پکي زه یم بــوده نه شــه
وجود تشي تنســـتي دي

○

د آدم ځانګړی، زه یـم، لکـه حق صمد احـد دی
تن زارنه دی ولي زه یـم، لَمْ یَلِدْ ولَمْ یُوْلَـدْ دی

○

د هرزاړي په درون کې د خپل ستروجود انځور وي
تېغ، تنه ځانګي ګلـونه يي هم کامونه په خپل لـوروي

○

دیکرنګه برید مـیږونه نیسي نورنور سنګرونه
دفطرت خوابزه لـرنه دي که سـاره نه شي متـونه
لمن څه چې، څادرخور کا دسپرلي ډېر دي ګلـونه
ته لامیشت په سرپراوي ژوند دې شخړې پراوونه
خوني خوني ستور تـلیږي تازه نه کـره یوخـونه
که تنهاکوته کښـــیني شـي کوته به مـنزلـونه
قدم تېزکړه، چې غربېږي ستوره تلوکې جرسـونه
یوه ورځ به درته راشــي
ستورګزونه بېلکــــونه

چې په يو هسته پيوست شي
ذرې غونډې شي تورغر شي

وړانګه کړه شي په وړانګې
ړا دېره نوې نمر شي

چې حجرې غښتلې پاخې
نو د هيک ځانده وسحر شي

ننګ له ننګه چې کوشير شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي

چې سپينګيره صف تړ شي
هله الله اکبر شي

هڅې هڅې چې په ګوابش شي
نو چوغې نوې په سر شي

شهسواران چې يک ځلب شي
د بړدونو[1] لوی اختر شي

تور په تور باندې شي پورې
سترګې سترګې يو نظر شي

لارې لارې هر آسمان شي
چې همت همت وزر شي

[1] برډونه = ولجې، مال، غنيمت.

د ژوند پېټي شي مخ لسوځي
چې شوګير تېره نشتر شي
چې ګټل بخښل توره شي
بيا آدم جنت ته ورشي
چې دعقل سپاره وينښ شي
پوچ خدايان هله ړبر شي

○

دوجود توره زيږون دی    او د "زه يم" نوښتون دی
نوښتون کړه د ژوند ښره    نوښت "زه يم" له پاڅون دی

○

يو غورځې دی اباسين دی    غرونه غرونه دی يو ښين دی
يو هغه دی سپوږمۍ ده    يو ېرغل دی ستورځليز دی
له تش ښور لاس اوچت شوی    اوس د هر غوره غوريز دی
ستا د توري له ټکوره    کائنات ټول سندريز دی
غره راغه دې له همته    ګل لمني ګل مخيز دی
لا د ژوند غرمه ده لري
داخو اوس لا سوړکهيز دی

که د ژوند نقشونه د پردي

ته د واړه ژوندانځور یې

نور ژوندون دي همه پلي

همه یو ته یې چې شهسور یې

واړه ستوکي یو یو رنګ دي

ته له رنګه سپرلي طور یې

د هوسۍ په سترګه د ننه

هم باتور کسي د بور یې

د ذري په ځاندره نمر یې

په قطره سمندر سپور یې

ته په ځمکه کې آسمان یې

په سرو او بو کې اور یې

د لښي سره پیاځه یې[1]

لا شته تور، هم تکور یې

چې راغونډ شي موټي خاوري

کائنات شي چې ورخور یې

د هجرو په ارونګه کې

له ظاهر لیده څه نور یې

---

۱- پیاځه: د ښاتو ډک ګبین

نور کورونه په تا تنګ دي
ته هم سیال د خدای د کور یې

○

مفکورې به د ویرې پوچ شي
د دې یو کلیمې وړاندې
چې یې ښن سندرې وایي
په صبا یې وایي ساندې

○

په ټولنو کې زرغونه    دا ډیوې او مشالونه
د سرهنګو شاه ځلمو دی    د خولو وینو رنګونه
د شاه متو الامې یې    آسمانګه سنګرونه
کښېدي یې د کړاو دي    وېر سپرلي شالیزارونه
د ناغوسترکو شوګیر یې    شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګړیز یې    خوړې وګړې شولانونه
د عقلي مبنود رشه یې    هڅوبونه، تهذیبونه

○

د ځلې د نرګس غبن دی    پسرلی یې تا ته راتلی شي
په ارکه چاپېریال هم    انقلاب زرغونېدی شي
عکسمنه پرګنو نه    مله د لارې تولیدی شي

ميړه مل که د ښمنستن دی له ښمنستن مخکې کېدی شي

د تیروازغوله تخرګه نوی څه وتدراستر کېدی شی

دفرعون له خپله درنده

کلیمان راپاڅېدی شي

آدمزاد لا لیشتینګ دي لا د پرلرې له خپل ډک دي

که په ټومنه باتوړان دي لا په چاروکې لولک دي

فلسفیان یې هلک فکره لا، له زړه یم بې درک دي

په دې ویرلوی کائنات کې په یو ځمکه، نمرتاوک دي

که خپلواکه د پرځان بولي چې یې ګوری لا بل وک دي

د شپانه څاري لا نه زده شرمخان دخپل کتڼک دي

لا یې عقل د پرکچبه دی لا په د پرجهلونو ککلک دي

د سرښوره نغوتکو په لاسونو کې لینزک دي

زبینا کیان یې په ځوښ کې

هغه شان په امبولک دي

لا په سر یې فرعونان شته لا قارون شته، لا هامان شته

آدمزاد چې ریزکسی دي لا دو چې د پرخدایان شته

د ولاړې ځکه نه شول چې پرې پټ شلمان شته

لا په دار مسيحا خبري لا لند پاري مذهبيان شته
خليلان شروني كسري دآذر لا لښكريان شته
هر نو ښت ته كفر وايي لا مخ مختې زناريان شته
قلمونه په اور سوځي لا دعلم غليان شته
آدمتياله لا يو خوب دى لا دقام، خاوري بتان شته

سړيتوب ته لوى منزل دى
لا د دوو ښوحيوان شته

وخت به اخلي، ادمزى چې
له خپل ځانه اشنا كيږي
دخښتن او دخپل زړه يم
په اړيكو چې رسيږي
وخت به اخلي دا حيوان چې
د سري په ښو پاځيږي
وخت به اخلي پوچ خدايان چې
د بربري، نسكوريږي
او دجهل كتابونه
د خنداتوكي جوړيږي
وخت به اخلي كائنات چې
ستر آدم ته بيا تيتيږي

د آدم په پاڅېدو کې
لا د ډېرو پېرو ځند دی
د دې دوو پښو څاروی ته
لا په ځپ کې لوی کولند دی

ته په ټول کائنات برېږې     خوله ځانه بې خبرېږې
ملغلره یې په زړه یم     که سیپی په تن بهرېږې
په یو څاڅکي کې توپان یې     په ذره دننه غرېږې
بر سېرنه که لاکټ سنګارې     چې په جسم شي نو سره زرېږې
ستا توبری توره دې "زړه یم"     هم په "زړه یم" ولجه ګرېږې
که ورستی راغلی کاروان کې     خو دواړه کاروان سرېږې
مینځ هستۍ ته دې پام نه دی     د بهرهستۍ په چړېږې
لا نیمچه آدم یې ځکه     لا د نیم ځان روزنګرېږې
انځاره کې حق ته تلیه!
د ناحقو انځور ګرېږې

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زړی دي
که یې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سرې دی

○

الکتاب په ادم نړونی
لا نښودن آخرني دی
که هر څو مره لغوني دی
خو هر زن کې صباني دی

○

حق لا اوس هم ناویلی
که ویلی د ننداره دی
فرعوني دی په خمار کې
نازېږي کلیمه دی
چرګ پرېوتی سیلاب زوځی
نوح پلوی بې بېړه دی
د کعبې سپایان جوت نه دی
آتیوان بیا په غدره دی
یو مذهب د کمتې نه دی
دالیندي واړه بې ژړه دی
خلق خبنتي د بتکور دی
ځکه ښځې آذرې دی
ناپوهې د هر وګړي
په وګړي په غدره دی

مفکوري پوچي نيمګړي
بسکيلکونه، تيزندي دی

○

چي خوندي دي کړه روره شه
چي دي وبازه خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بېرته شرق په خپل تندي شه
د باتورو جس يې بايلل
چي د چتو وهندي شه
پولې پاڅي آدم وخوري
چي د پولو ځای بندي شه
د خليل پېړي ته وېتي
د بُتانو وهندي شه
چا تونګ د اسمان وخور
څوک څُلا په کرېندي شه

PROPERTY OF ACKU 7550

○

شوندانه تول يو ځانيز دی
که هر څومره کښ رنګين دی

مخ د ټولو په سیـو مخـه
که هر ټوکی بل مخـیز دی

په یو بم په زیر جار وخـي
دار باب که زر تاریـز دی

لاړي لاړي یوشهـلاره
تهـل تلی، یوشه تلیز دی

ستور تلیز ستور تلیز کوړ کوړ
کائنات یوشه کوریز دی

پدې دومره هِکْ ځاندره کې
ځمکه ناشې غوندې څـیز دی

خو ځمکْزی په شونی تیاوُ
د همه ښروند د توزیـز دی

په تنزومې کـیراوکره
شیش بیا واخله ویره جهان ته

چې ذره په ولکه واخـلې
مه تې راښکه بیا شلمـان ته

ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړي وبـاسه آسمـان ته

له بېلې دریاب ته واوړه

له تنګي نه پلن دامان ته

غوږ کېنه په لیندۍ کړه

بیا ورکښېږده شنخ کمان ته

له سېږغو دې د پرښوند وکړه

لاس کړه اوبړ د نمر وښان ته

پوهه بوځه څېرکتیا له

څېرکي راشکه ایمان ته

په نرۍ ورخوږ پېدو کې

ګرځېدلي اوسه ځان ته

PROPERTY OF
ARIC
Established
1979

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**